# افغان کډوالو ته د رواني روغتيايي
# مرستو چمتو کونکو لپاره لارښووني

د New York رواني روغتيايي مرکز باور لري چې هرڅوک بايد د اروايي هوسايني لپاره مساوي فرصت ولري. د اروايي روغتيا د مرسته کونکي په توګه کېدای شي تاسي په New York کې له افغانستان څخه د تازه راغليو کډوالو سره مخ شئ. **موږ بايد ددوي له تجربو او کلتوري توپيرونو په هکله معالومات ترلاسه کړو:**

د افغانستان له نيمايي زيات نفوس د ژور خفګان، اندېښنې او ذهني ټکان څخه کړېږي،**خو تر ۱۰ سلنه لږ کسان يې د اړتيا وړ مرستې او ملاتړ ته لاسرسی لري.**

خپل کارمندان وروزئ ترڅو اړونده کلتوري ځانګړتياوې وپيژني او د (مذهب، جنسيت او د طبي پاملرنې په اړه پر شته باورونو) باندي پوه شي. **کلتور د افغانانو د رواني روغتيايي خدمتونو په ترلاسه کولو او د يادو خدمتونو په عملي کولو کې پياوړی رول لوبوي.**

افغان کډوال ممکن پر پاملرنې سيستمونو باور ونلري د کډوالی د وضعيت، يا د کلتوري پېغور او يا هم د اروايي ناروغۍ په اړه د زدکړو د نشتوالي له امله.

**افغانستان څو ژبنيز هيواد دی خو دوې ژبې پکې تر ټولو ډېر ويونکي لري: پښتو او دري.** کوښښ وکړئ چې ستاسو لارښووني او عمومي روغتيايي پېغامونه په همدغه ژبو کې وي. د خدمتونو وړاندي کونکی به مستقيم ژباړونکي يا هم د ټلفون / ويډيو پيغام له لاري ژباړونکی او يا هم په ليکلې بڼه ژباړونکي ته لاسرسی تضمين کړي. **د نورو معالوماتو لپاره دا ويبپاڼه وګورئ:** https://omh.ny.gov/omhweb/cultural_competence/exec_order_26/index.html

*(*ټولي سرچينې ژبې ته د لاسرسي خدمتونه لري)*

## مرسته شتون لري:

*د کډوالو سره د مخ کېدو پر مهال د هغوی سره د مرستي لپاره له لاندينيو سرچينو څخه استفاده کولای شئ:*

**د نويو امريکايانو لپاره د NYS د دفتر ټلفون شمېره: 1-800-566-7636**
*نويو امريکايي وګړو ته د خدمتونو لارښوونو او ملاتړ لپاره زموږ مرسته ترلاسه کړئ.*

**په NYS کې د رواني روغتيا د ترلاسه کونکو د اړيکو دفتر: 1-800-597-8481**
*د New York ايالت خدمتونو ته د لاسرسي له مرکز څخه د پوښتنو د ځواب موندلو او خپلو اندېښنو شريکولو لپاره مرسته ترلاسه کړئ*

**پهNY کې د کرونا COVID-19 د عاطفي ملاتړ د پروژې ټلفون شمېره: 1-844-863-9314**
*په NY's کې د COVID-19 بحران پر مهال د مشورې ورکولو محرمه او وړيا ټلفون شمېره*

**د ملي ځانوژني مخنيوي لپاره ټلفون شمېره: (8255) 1-800-273-TALK خبرې وکړئ يا Got5 متن ولېکئ 741741 ته يې واستوئ**
*پټ ملاتړ او د کړکيچ سرچينې*

---

**د OMH ساحوي دفترونه** (د يو چا سره د مراجعينو د دفتر او ځايی خدمتونو په اړه وږغيږئ):

د New York مرکزي ساحوي دفتر:
ټلفون: 426-3930 (315)

د هډسن سيند ساحوي دفتر:
ټلفون: 454-8229 (845)

د لانګ ايلنډ ساحوي دفتر:
ټلفون: 761-2508 (631)

د New York ښار ساحوي دفتر:
ټلفون: 330-1650 (212)

د لويديځ New York ساحوي دفتر:
ټلفون: 533-4075 (716)

NEW YORK STATE | Office of Mental Health